د **EMTA** خدماتي معلومات

د دفتر موقعیتونه:

127 E. 14th Street Erie PA, 16503

208 E. Bayfront Parkway Erie PA, 16509

د ټاکل شوې لارې د پېرودونکو خدمتونه: 814-452-3515

د پاراټرانزیت د پېرودونکو خدمتونه:3330 -814-455

د خدمت نه وړاندې کولو ورځې

د نوي کال ورځې، ایسټر، میموریل ورځ، د جولای څلورمه، د مزدور ورځ، د شکرانې یا تینکس ګیوینګ او کرسمس ورځې

د موبایل اپلیکیشنونه

خپل بس وڅارئ!

مای سټاپ (MyStop) اپلیکیشن

په دقیق وخت د اټکل شوې رارسېدنې وختونه(ETAs)

په لاس لاربښوونې

خپل سفر پلان کړئ

زمونږ له اپلیکیشنونه یو یې نن په وړیا توګه ډاونلوډ کړئ

د بس پاسونه ستاسو په تیلیفون کې!

زحمت پرېږدئ او د ورځې په اوږدو کې د خپل تیلیفون په وسیله هر وخت د بس پاسونه وپیرئ

همدا نن ټوکن ټرانزیټ (Token Transit)  ډاونلوډ کړئ!

د بس لارې

لومړۍ لار: ګلینووډ

درېمه لار: پیچ کوخه

څلورمه لار: لیبرټي کوخه

یوولسمه لار: هاربرکریک



دولسمه لار: اليبون

خوارلسمه لار: ایڊینبورو

پنځلسمه لار: اته دېرشمه ختیځه کوڅه( East 38th Street)

شپاړسمه لار: نارت ایسټ

اوولسمه لار: بریګس اوینیو*

اتلسمه لار: پین سټیټ بیهرینډ*

نولسمه لار: ګینون پوهنتون*

شلمه A لار: ډاؤنټاؤن لوپ

شلمه B لار: لنکن پارک ان رایډ

شلمه C لار: کورټ هاؤس/ UPMSC

شلمه L لار: کلچرل لوپ

یوویشتمه لار: لارنس پارک

دوه ویشتمه لار: ټاکوما

درویشتمه لار: بيلي ويلي

څلورویشتمه لار: مکلي لینډ

پنځه ویشتمه لار: ویسلی ویل

شپږویشتمه لار: شپږویشتمه ختیځه کوڅه

اوه ویشتمه لار: سټیټ کوڅه

اته ویشتمه لار: ايري هایټس

نهه ویشتمه لار: ایسبري

دېرشمه لار: ویسټ میل کریک

یودېرشمه لار: فرنټئیر

دوه دېرشمه لار: ویسټ لیک

دري دېرشمه لار: پریسک آییل

یوسل او پنځمه لار: کوري لوپ

دوه سوه نهه ویشتمه لار: فیئر ویو

(*) په دې مانا چې کله کالج پیل وي

د کرایې اړوند معلومات

پوره کرایه- $1.65

لېږد - $0.45

د شلو سوارلیو پاس - $28.00

د پنځو سوارلیو پاس - $7.50

د مهربانۍ له مخې د دقیقې کرایې له مخې وخېژئ. بېرته نه درګرځول کېږي

نامحدودې سوارلۍ

یوه ورځ - $3.30 ( په بس کې اخیستل کېږي)

31- ورځې - $52.00

د کرایې په اړه نور معلومات

زمونږ د موبایل له اپلیکیشن (ټوکن ټرانزیټ) سره! ستاسو په تیلیفون کې د بس پاسونه

معلول کسان کېدای شي چې د لږې کرایې د پروګرام څخه د ګټې اخیستو وړ وي. سپینږیري چې عمر یې له 65 کلونو پورته وي، کولای شي چې د د سپینږیرو د پاس په لرلو د ټاکل شویو لارو په EMTA کې وړیا سفر وکړي.

کمه کرایه - $0.80

د لېږد کمه کرایه - $0.25

سپین ږیري: وړیا

څلور کلن او ښکته کوچنیان - وړیا

د سیمه ایز پوهنتون زده کړیالان: وړیا (د محصلانو د کارت او اوسني اي-سټیکر لرونکي)

معلولیت لرونکي پېرودونکي

د ایري په مټروپولیټن ټرانزیټي اداره کې زمونږ موخه دا ده تر څو ستاسو سفر خوندي، خوندور او یوه اسانه تجربه وګرځوو. که تاسو د EMTA ټاکل شوې لارې یا پاراټرانزیټ تر واک لاندې برنامو لپاره وړ واوسئ ، زمونږ ټولګه او ټیم په اسانۍ د معلولیت

لرونکو پېرودونکو د ځای پر ځای کولو لپاره د لاسرسي وړ دي. هر بس د امریکا د معلولیت د قانون له مخې د لاسرسي وړ دی او د اولیت پر بنسټ د چوکیو ترتیب لري.

سپین ږیري وګړي

د ایري سیمې پنځه شپېته (65) کلن او یا ورهاخوا ښاریان کولای شي چې د ایري مېټروپولیټن اداري د سپین ږیرو ښاریانو د ټرانسپورټ د پروګرام مستحق واوسي. هغه که د EMTA د بشپړو معلولینو لپاره د ټاکلو لارو په بسونو کې وړیا سفر وي او یا د LIFT (پاراټرانزیټ) په وسیله له دروازې تر دروازې خدمتونو له لارې وي.

**LIFT**پروګرام (پاراټرانزیټ)

د EMTA د شریکې سوارلۍ پروګرام د ایري سیمې خوندي، باوري او پېریدونکي پلوه ترانسپورټي پروګرام دی چې د هغوي له لورې له مخه راغوښتل کېږي. د شریکې سوارلۍ خدمتونه چې د EMTA لخوا وړاندې کېږي، ټولو هغو سازمانونو او اوسېدونکو لپاره شتون لري چې د بس د لارو لیرې اوسېږي او یا توان نلري چې د بس له خدمتونو ګټه پورته کړي. د شریکې سوارلۍ پروګرام د ایري سیمې په حدودو کې فعالیت کوي او دروازه په دروازه خدمت وړاندې کوي. طبي ملاقاتونو، سودا اخیستلو او تفریحي فعالیتونو ته لېږدول په عادي سفرونو کې شامل دي.

LIFT سره د 814.456.2299 لارې تماس ونیسئ.

په بسونو کې د سورېدو لارښود

1. خپل منزل وټاکۍ. د بس تقسیم اوقاتونه زمونږ په دفتر، د بسونو په تمځایونو، www.ride-the-e.com او myStop اپلیکیشن کې شتون لري.
2. د سیستم نقشه ښیي چې هره لار په ایري کې تر کومه ځایه رسېږي. ستاسو ځای ته تر ټولو نږدې د لارې شمېره پیدا کړئ.
3. د بسونو په خپل تمځای کې ودرېږئ. ځینې د بس تمځایونه د بسونو د نښې په لوحو نښه شوي. که په هغه ځای کې چې تاسو غواړئ، د لارې بس ته پورته شئ، د بس نښه نه وي لګېدلې، نږدې څلورلارې ته ورشئ او د کوڅې هغه اړخ ته ودرېږئ، کومې خواته چې بس ځي. ځان مطمئن کړئ تر څو په داسې ځای کې ودرېږئ چې د بس چلوونکی تاسو ولیدلای شي.
4. بس ته له پورته کېدو دمخه د بس د منزل لوحې ولولئ. «e» بسونه د لارې په نومونو او شمېرو نښه شوي. دا نښې د بس مخې ته واقع وي.

نور معلومات

- بس د ختلو پرمهال دقیقه کرایه او یا هم د بس پاس له ځان سره ولرئ.

- که لېږد ته اړتیا لرئ، نو لېږد باید د کراېې د ورکولو په وخت کې وېږرئ.
- بس ته له ختلو او کوځېدو دمخه انتظار وکړئ تر څو بس په بشپړ ډول تم شي.
- سګرټ څښول، خوراک، څښاک، د راډیو او کوچنیو سپیکرو غږول په هیڅ بس کې اجازه نه لري.
- مهرباني وکړئ د سپین ږیرو او معلولینو لپاره د لومړیتوب په اساس ناسته مراعت کړئ.
- له معلولینو سره د مرستې په موخه خدمتي حیواناتو ته په بس کې اجازه شته، ولې په چوکیو باید نه وي ناست اوهم په پټۍ تړلې وي. هیڅ کوم بل ساتل شوی حیوان مجاز ندی.
- کوچنیان مو بس ته د ختلو لپاره چمتو کړئ او د بس له روانېدو دمخه یې ګاډۍ راټوله کړئ.
- د بس پیاده رو له داسې شیانو پاک وساتئ چې کولای شي نورو ته ضرر ورسوي.
- تل کوښښ کوئ چې څو دقیقې دمخه د بس په تمځای کې واوسئ.
- د بسونو چاپ شوي تقسیم اوقاتونه تخمیني دي، د بشونو د دقیقې څارنې لپاره مهرباني وکړئ، myStop اپلیکیشن ډاونلوډ کړئ.

